مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۹/۲۷

# عشق او عقل

لکه په دین کی چی دې عقل ته کوم کار نشته
داسی د مینی کورته هم د عقل لار نشته

که مسافر شو درنه زړه چیری د عشق نړی ته
شی به خبر چی دی نړی کی یو هوښیار نشته

ورته په لیکه کی ولاړ دی ډیربی شمیره زړونه
دی منتظر د مینی باغ ته د تلو وار نشته

خو که ورتلی پام چی د عقل سره نه به ورځی
هلته ګلزار د مینی جوړ دی پکی خار نشته

د عشق دنیا کی دي تر ټولو عاقلان بی وزلی
عاشقان واړه پاچاهان دي پکی خوار نشته

دی منل شوی په باور کیسی د سپینو حورو
کنه ! د عقل په دایره کی یی آثار نشته

عشق یاغي دی ماتوې تل انتظام د عقل
بی د محبوب له ګرمی غیرئي قرار نشته

د خروارعقل په ځای ورکړه ورته پاو دمینی
د کلیوال په سر کی ځای ددی خروار نشته

سپتمبر/۲۰۱۸
تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ